**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي ریاست**

**د تحریراتو آمریت**

**د متحدالمآل څانګه**

**د متحدالمآل ګڼه: ٦** **نېټه: ٢٢ / ١ / ١۴۴۴ هـ ق**

**د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو د ریاستونو محترمو منسوبینو ته!**

**السلام علیکم ورحمت الله و برکاته**

و بعد: د افغانستان اسلامي امارت د لوړ مقام عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله د شفاهي هدایت پر بنسټ، د ریاست الوزراء مقام د ۱۴۴۳/٦/۱ هـ ق نېټې د (۳۱۴) ګڼه لیک په ذریعه له سترې محکمې څخه د امریکایانو د اشغال پر مهال د نادرکه شویو افغانانو په هکله (چې ژوند او مرګ یې معلوم نه دی، مېرمنې یې بې سرنوشته او همدارنګه د میراث مسایل یې هم پر ځای پاتې دي) استهداء کړې وه.

د ریاست الوزراء د محترم مقام د پورتنی استهداء لپاره، د سترې محکمې له خوا ځواب ولیکل شو چې همدغه استهداء او ځواب دواړه د سترې محکمې بعضې جیدو شیوخو او محترمو مفتیانو ته واستول شول چې د دوی له خوا یې تدقیق او کتنه وشوه او د پورتنی استهداء ځواب یې په لاسلیکونو سره تایید کړ، او وروسته بیا د سترې محکمې د مقام د دفتر محترم ریاست د ۱۴۴۳/٦/۲۷ هـ ق د (١٦٥) ګڼه لیک په واسطه د اسلامي امارت عالي محترم مقام ته وړاندې شو. د اړونده محترم مقام پورتنی ځواب (فتوی) د نظر ورکولو لپاره د مرکزي دارالافتاء ریاست ته واستول شو چې یاد ریاست د ۱۴۴۳/۷/۹ هـ ق نېټې مجلس کې د ریاست الوزراء محترم مقام ته د سترې محکمې ځواب تایید او په اړه یې خپل نظر ور کړ او د ۱۲/رجب/۱۴۴۳ هـ ق د (ش: ٦٣، ص:۱۳، ج:۱) ګڼه مکتوب له لارې یې د اسلامي امارت عالي محترم مقام ته وړاندې کړ. د افغانستان اسلامي امارت عالي محترم مقام د رجب المرجب/۱۴۴۳ هـ ق د حکم پر بنسټ هدایت وکړ:

د سترې محکمې محترم مقام ته!

اسلام علیکم ورحمت الله وبرکاته.

وبعد: ستاسې فتوی زمونږ له خوا هم تایید ده، دا مسئولیت دې د هرې سیمې قاضي ته وسپارل شي تر څو د هرې ممکنه لارې څخه معلومات راټول کړي، وروسته دې خپل معلومات تاسې ته او تاسې یې مونږ ته راولېږئ.))

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

پورتنۍ فتوی د عالي شورا محترم مقام ۱۴۴۳/۸/۵ هـ ق نیټې جلسه کې مطرح شوه او محترمې عالي شورا د (۳۴) ګڼه تصویب په ترځ کې لاندې هدایت وکړ:

((د نادرکه کسانو په هکله چې د اسلامي امارت د عالي محترم مقام له تایید وروسته کومه فتوی رارسېدلې وه، د یوه متحدالمآل په شکل دې ټولو محکمو ته واستول شي او همدارنګه د رسنیو او ستري محکمې د عامه اړیکو څانګې له لارې دې هم خپره شي.

همدارنګه دې د ریاست الوزراء محترم مقام سره هم شریکه کړل شي او څنګه چې لازم بولي هغسې دې خپره کړي، او کړنلاره دې پلې شي چې د اسلامي امارت عالي محترم مقام له لوري رارسېدلې ده.))

بناءً، پورتنۍ فتوی په (٦) پاڼو کې له دې متحدالمآل سره مل د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شوه تر څو یې په رڼا کې شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**یادداشت:** د افغنستان اسلامي امارت عالي مقام د ۱۴۴۴/۱/۱۰ هـ ق (۱۵) ګڼه فرمان په ترځ کې د هغه هیوادوالو په هکله محکمو ته هدایت کړی دی چې په ۲۰ کلن جهاد کې ورک شوي دي چې یاد فرمان په (۲) پاڼو کې له دې متحدالمآل سره مل د افغانستان اسلامي امارت د تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو محترمو ریاستونو ته واستول شو تر څو د ستري محکمې د فتوی او د اسلامي امارت د عالي محترم مقام د پورته ذکر شوي فرمان مطابق شرعي او اصولي اجراأت وشي.

**په درناوي**

**مفتي عبدالرشید "سعید"**

**د دارالانشاء رئیس**